http://www.arianafghanistan.com

انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۵/۰۷

# د ګلبدین حکمتیار راتګ

## په کابل ته د سولی په ګټه وی که په تاوان؟



دا یوه هسی پوښتنه ده چی یواځی وخت به ورته سم ځواب ورکړلی شی. خو د هغی ورځی نه چی د اسلامی حزب مشر ښاغلی حکمیار په افغانستان کی د امریکا او ناتو د نظامی مداخلی نه را وروسته د لومړی ځل د پاره د لغمان ولایت د مهتر لام په ښار کی د ۱۳۹۶ هـ ش کال د ثور په اتمه را څرګند شو، بیا وروسی دوه ورځی وروسته و ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار ته د ملی یووالی د دولت  د لوړ رتبه مامورینو سره ولاړ او په دواړو شرقی و لایاتو کی یی د رسنیو په وړاندی په هیواد کی د سولی د تامین په هکله څرګندونی وکړی. له دی څرګندو نو څخه سړی داسی پوهیدلی شی چی هغه (حکمتیار) او د هغه د اسلامی ګوند نور مشران  د اوږده بی نتیجی جنګی حالت او په دښتو او غرونو کی د سرګردانه ، لالهانده، نارامه او د هر ډول د خطراتو سره د مخامخ کیدونکی ژوندانه  نه ستړی شویدی او غواړی چی پاتی عمر د خپلو پخوانیو جهادی ملګرو ، همزولو او هغو دوستانو سره یوځای تیر کړی چی په دا تیرو شلو پنځه ویشتو کلونو کی تری بیل شوی او لیری شوی وو.

ښاغلی حکمتیار د ثور د میاشتی په ۱۴ نیټه د خاصو امنیتی تدابیرو په نیولو سره (چی ممکن د ناتو پوځیانو به هم پکی برخه درلوده) د کابل ښار ته دا خل شول. د جمهوری ارګ په مانی کی د ګڼ شمیر جهادی او دولتی هسی مشرانو سره یی هم لیده کاته وکړل چی کلونه کلونه یی یو د بل په مقابل کی د سپکو او درنو وسلو له کارولو نه کار اخستی و.

د اسلامی حزب مشر ښاغلی حکمتیار هلته هم  هیواد ته د سولی د راتلو په ضرورت باندی ټینګار وکړ او په ټولو مخالفو وسله والو یی غږ وکه چی د خبرو له لاری د سولی د پروسی سره را یو ځای شی او د نورو د ګټو د پاره د خپل هیواد له ورانولو نه لاس واخلي.

حکمتیار په خپلو لنډو خبرو کی طالبانو ته په خطاب کی و ویل چی افغانستان ته د امریکایانو د راتللو زمه واری او همدلته د پاتی کیدلو زمه واری ستاسو په غاړه ده. راشی د جګړی نه لاس واخلی چی د امریکایانو د وتلو زمینه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

برابره شی. که د سولی په تامین او د جگړی په ختمیدو سره بیا هم امریکایان د افغانستان نه ونه وتل بیرته به په شریکه غرو ته پورته کیږو او بیا به جهاد کوو، خو یوځل باید د سولی تامین هم و ازمایو او نتیجه یی و گورو.

د پلان سره سم د ثور د میاشتی په (۱۵) نیټه د جمعی په ورځ ښاغلی حکمتیار د کابل په غازی ستدیوم کی د زرگونو کسانو یوی غونډی ته چی ده ته د ستړی مشی او اخلاص لرلو له کبله راغلی وو، یوه هر اړخیزه او مفصله وینا واوروله چی په هره برخه کی د الله اکبر او ژوندی دی وی افغانستان په شعارونو سره بدرگه شوه. په دی اوږدی وینا کی هم د حکمتیار ټوله توجه په افغانستان کی د سولی تامین ته د تر ټولو ستر ضرورت په توگه اړول شوی وه. هغه په ټینگار سره و ویل چی دا جنگ هیڅ لوری ته بری نه شی ورکولی او گټونکی هغه څوک دی چی دی هیواد ته سوله راولی.

د دی سره سم د کابل د ښار په هغه سیمه کی چی د ښاغل حکمتیار د اوسیدو د پاره مشخصه شویده یو شمیر کسانو د مظاهری په بڼه اعتراضیه لاریون وکړ او د کابل په تنظیمی جنگونو کی د ځینو وژل شوو کسانو عکسونه او ځنی داسی شعارونه چی «گلبدین حکمتیار قاتل دی باید محاکمه شی او نور» هم د ځان سره وړل. د دوی اعتراضونه تقریباً په افغانستان کی د بشر د حقوقو د اداری د مسؤلی اغلی سیما ثمر هغو اعتراضونو ته ورته وو چی کابل ته د حکمتیار تر راتلو د مخه یی د رسنیو له لاری کړی و.

دا چی کابل ته د ښاغل حکمتیار په راتلو څوک خوښ دی او څوک ناخوښ، داچی ولی د تنظیمی جگړو او په دی جگړو کی د کابل د بی گناه خلکو د وژلو او د کابل د ښار خرابیدو ټول مسؤلیت د ښاغلی گلبدین حکمتیار او د هغه د حزب اسلامی په اوږو ور اچول کیږی، او داچی ولی دا خلک د هماغه وخت په جنگونو کی د نورو ور گډو او د جنگ د اصلی پیلیدونکو تنظیمی مشرانو او خپل سرو قوماندانانو د اقتدار تر بیرغ لاندی له هماغه وخته تر دا ننه پوری د ذلت، خواری، کړاو او بدمرغی ژوند تیروی، خو نه شکایت کوی او نه ورته د قاتلینو په ستر گه گوری، یوه ځانگړی موضوع ده چی د اسناد په وړاندی کولو سره، چی د کابل ښار چا وران کړ، د کابل خلک چا و وژل او چا د ښار نه وشړل، چایی کورونه او جایدادونه غصب او لاندی کړل او چایی حتی په ناموس تیری وکړ، او د چا د لاسه ځوانو نجونو ځانونه د لوړو منزلونو نه د خپل عزت د ساتنی په منظور را گزار کړل؟؟؟ بیل او ځانگړی تحلیل ته ضرورت لری چی دلته په دی لیکنه کی ورته ځای نه دی ورکړ شوی.

له دی لیکنی نه زما هدف دادی چی څه ناڅه په دی و پوهیږو چی د افغان دولت سره به د ښاغلی حکمتیار په مشری د اسلامی گوند د سولی او پخلاکیدو پروسه په هیواد کی د عمومی سولی په تامین، کی څه رول ولری کنه؟ او کابل ته د ښاغلی حکمتیار راتگ به د هغو کسانو په مزاج چی همدا اوس هم دولت چلوی او هم د دولت په اپوزیشن موقعیت کی ځای لری برابر وی اوکنه؟ او تر ټولو مهمه دا چی ایا د ملی وحدت په نوم د جوړ شوی افغان دولت (چی ښاغلی حکمتیار هم د جان کیري دولت وباله) مشران، د طالبانو د ډلو مشران او خپله د ښاغلی حکمتیار په گډون د اسلامی حزب مشران، د سولی په تامین او راوستلو کی د لازم صلاحیت او استقلالیت نه برخمن دی او کنه؟ هسي پوښتني دی چی ځواب ور کول ورته زما په اند ډیر سخت او بی له دی چی سړی وخت ته منتظر پاتی شی حتی نا ممکن ښکاری.

که مونږ د افغانی ټولنی تیر ځلوییښت کلن عمر ته د سولی او جنگ د حالاتو په را وستلو کی د افغان چار واکو او سیاسی ډلو رول او صلاحیتونو ته نظر واچوو، نو په پوره وضاحت سره وینو چی د ثور له کودتا را وروسته بیا تر ننه پوری هیچ مشر، د هیڅ ډلی مشرتابه او حتی محلی واکمنانو د دی صلاحیت نه دی در لودلی چی په خپله خوښه

او خپل افغانی دود او دستور سره د بل مخالف مشر یا مخالفې ډلې سره دی د اختلافونو د له منځه وړلو او د سولی د تامین په برخه کی د خپلواکی ارادی خاوند او لرونکی وی. د مثال په توګه د خلقیانو او پرچمیانو په څلورو زمامدارانو ( تره کی، امین، کارمل او نجیب) کی یو هم داسی زمامدار نه و چی پنځه سلنه یی یا په خپله خوښه او یا هم د خپلو نورو افغانی لوړپوړو چارواکو په خوښه په کړو وړو کی واک او اختیار لرلی وی. دی هریوه یو دبل نه ډیر زیار ویستلی دی چی د خپل ستر بادار (د وخت د شوروی زعامت) په راضی ساتلو کی ګرندی وی.

همدی ته ورته د دوی افغانی مخالفین چی اوه ډلی په پاکستان کی او اته ډلی یی په ایران کی را وټوکیدلی او په میوه ورکونکو ونو بدلی شوی. د خپل پیدایښت نه بیا تر ننه پوری نه یوه ډله، نه د یوی ډلی مشر او نه د دی ډلو وتلی او پیژندل شوی قوماندانان په دی بریالی شویدی چی د خپلو تخلیق کونکو، تغذیه کونکو او جهت ور کونکو قوتونو (د پاکستان د دولت د جاسوسی د سازمان او د ایران د دولت د جاسوسۍ د ادارو) له اسارت څخه ځانونه آزاد کړلی شی.

په همدی توګه د جهادی تنظیمونو د جارو کونکی او ځغلونکی ځواک (طالبانی غورځنګ) چی زمونږ د ټولنی مجبورو او ساده پاک زړو مسلمانانو ورته د نجات د پرښتو نوم ورکړی و، هم له هماغه مرداری سر چینی (آي اس آي) نه منشاء اخستی وه لکه د دوی مشران (جهادی تنظیمونه) چی تری د افغان ولس د تباهی د پاره را وتلی وو. لا هم د هماغه قوت د تاثیر او قو ماندی لاندی په ټول توان سره د افغان ولس په بربادۍ او تباهی کی لګیادی کار کوی او تخریبی اعمال یی د یوی ورځی نه بلی ته لا پسی زور اخلی.

همدی پس منظر ته په کتلو سره دا هیلي چی ګوندی ښاغلی حکمتیار دی په خپله خوښه او خپلی اسلامی ، انسانی او افغانی ارادی سره دی ته حاضر شوی وی چی پاتی عمر په خپل وطن کی د خپلو وطنوالو سره یو ځای په سوله او د ورورۍ په فضا کی تیر کړیو د شک ، تردید او پوښتنی لاندی را ولی.

او دا له دی کبله چی که په افغانستان کی د سولی د روستلو د پاره هغه قوتونه چی دا سوله یی له منځه وړی په سر کی د امریکا د متحده ایالاتو اداره وغواړی چی دلته جګړه ختمه او سوله قایمه شی نو بیا ولی د پاکستان په دولت، د سعودی عربستان په دولت او د منځنی ختیځ په مستو شیخانو دا زوره نه اچوی چی د تروریستانو سره دی مرستی و نه کړی، ځای دی ورنه کړی، او د جنګ د پاره دی یی افغانستان ته نه رالیږی. دا د جنګ اصلی زیږونکی او د سولی اصلی دښمنان ولی د جنګ د لمبو د تازه ساتلو د پاره د نوو تروریستی ډلو لکه داعش او نورو په را منځ ته کیدو کی پانګه اچونه کوی او په دی توګه په ټوله اسلامی نړۍ کی د وینو تویډلو ته زمینه برابروی؟؟؟ دوی ولی نن په دی کار کوی چی طالبان د پاکستان له غیږی نه د روس او چین لمنو ته ور واچوی او پاکستان ته په سیمه کی د د نوی تروریستی ډلی (داعش) د روزنی او سمبالښت و ظیفه ور سپاری؟ دوی ولی د نوی تشدد د را پیدا کیدو د پاره او د اسرایلو د تقویی او ساتنی د پاره د ایران او سعودی عربستان د هیوادونو تر منځ اختلافاتو ته لمن وهی، ولی تر کیه د عراق او سور یی په وړاندی را لمسوی او داسی په لسګونو نوری توری معاملی د څه د پاره تر سره کوی؟

که د متحده ایالاتو دی ټولو کړو وړو ته سړی پام وکړی نو د افغان دولت سره د ګلبدین حکمتیار د اسلامی خزب پخلاینه هم له همدی لوبو نه یوه نوی لوبه معلومیږی چی د افغان ولس د پاره به د نوو ستونزو سره ملګری وی.

حکمتیار به ټوله ورځ د دی ننداره کوی چی په کوڅو او واټونو کی ورته ډلی ډلی خلک را ټولیږی او څوک ورته د قاتل، څوک ورته د جاهل، څوک ورته د پاکستان د مزدور ، څوکی ورته د تروریست او څوک به ورته د قصاب خطاب کوی او دی به یی اوری ، خو داچی دلته دموکراسی ده د بیان ازادی د خلکو حق دی، نه به اعترض کولی شی او نه به کوم عکس العمل ښولی شی. د ده سیاسی پخوانی مخالفین به چی اوس هم په دولت کی شریک دی او هم

یی اپوزیشن په لاس کی دی په پټه او ښکاره تو ګه د تمسخر په توګه وای (طالبان برادران حکمتیار هستند. ډاکتر عبدالله)

که چیری حالات همداسی ادامه و مومی نو بیا داشک په یقین بدلیدای شی چی د ا امریکا په خوښه دا هم د پاکستان د شیطان صفته دولت د سلګونو نورو لوبو په څیر یوه نوی لوبه ده چی د افغان ولس د تباهی د پاره یی په کار اچولی ده.

هیله ده چی داسی ونه شی او د دی شک په خلاف د ښاغلی حکمتیار راتګ کابل ته د افغان ولس د پاره د یوی دایمی سولی د را منځ ته کیدو د پاره یو پوخ تهداب او بنسټ و ګرځی او ټول وسله وال مخالفین د خبرو له لاری د افغان دولت سره د خپلو ستونزو د حل د پاره د لارو په میندلو بری و مومی او په جنګ وهلی هیواد افغانستان کی یوه تل پاتی سوله را منځ ته شی.

د دی هیلی تر څنګ د ټولو افغان پوهانو او روښاندانو نه هم یوه هیله ده او هغه داچی څومره یی په توان کی وی زیاردی و کاږی چی د خلکو او ولسونو تر منځ د بیلوالی په ځای نژدی والی ته کار وکړی تر څو د یوه ملی ارمان په لرلو سره ټول افغان ولسونه د ټول بد مرغیو نه د خلاصون په لور شریک ګامونه پورته کړی او د خپل ویاړلی افغانی هویت د ساتنی او لوړتیا د تر لاسه کولو د پاره په پوره میرانه کار وکړی.پای

که فلک دی د زمری په خوله کی ورکا

د زمری په خوله کی مه پریده همت

خوشال بابا

تورنتوــ کاناد

می/۶/۲۰۱۷